ژباړه او هڅه: رحمت آریا

۲۰۰۸/۱۱/۰۶م

# د هیڅچا د واکمنۍ ګدۍ پر مستند فلم لنډه کتنه

پنځمه برخه

## پوړۍ



د لویدیځ دیوال له څنډې څخه تیر شو له هغه وروسته د تخت جمشید تولګي ته د ننوتلو پوړیو ته رسیږو. تخت جمشید ته د ننوتلو پوړیو پرمخ هېڅ ډول پسولنه نه لیدل کیږي. دلته یوازې ددبرو پریږې توټې پر یو بل ایښودل شوي او پورته تللي دي. پردغو پوړیو د حجارۍ د کار نښتوالی چې میلمه به ورباندې د ماڼیو تولګي ته ورننوت غیر طبیعي ښکاري.

موزیک ۱۰ ثانیې



**ناصر پور :** وګورئ! په تخت جمشید کې بنسټ کې د ښکلا او حجاري بربنسټ ایښودل شوی دی ؛ په دې مانا چې غوښتي یې دي د دبرینو انځورنو له لارې پر ننداروچي اغیزه وشیندي. پام مو دی؟ حال دا چې د ننوتلو پوړۍ هېڅ ډول پسولنه او ښکلا نه لري.



ځکه د میلمه یا د سیلاني تر اغیزې لاندې راتلل باید له همدغه ټکي را پیل شي. په دې مانا چې پوړۍ باید ډیرې ښکلې وي ، اغیزه شیندونکي انځورونه باید ولري یا لږ تر لږه داسې شیان ولري چې نن یې موږ [ اهورا مزدا] بولو او د تخت جمشید په بیلابیلو ځایونو کې لیدل کیدای شي ، او یو له دغو پسولنو څخه په غټ حجم باید په دغو پوړیو کې هم وای ، یا د بنه راغلاست یوه دبر لیکه وای ، یا داسې نورې بیلګې او انځورونه چې دغې تولګې ته یې په هماغه لومړي ګام کې رسمي بنه ور کړې وای. دا شی نشته. دا چې نشته په دې مانا نه ده چې هرو مرو باید په همدې بنې وای یا نه وای. په خپله د پوړیو فورم همداسې دی ، لا تراوسه نیمه خامې دبرې یو پر بل ایښودل شوي دي ، یا نابشپړې شوې حجارۍ ؛ دا ټول ددې ښکاروندی دي چې د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

پوړیو د جوړولو کار د پلي کيدا په لومړي پړاو کي وو ، له دغو پوړيو ښخه د کار د پرمخ بيولو لپاره کار اخيستل کيده چي وربانديې کښته پورته تلل او په پام کي ول چي د پسولني کار يي په پای کي سرته ورسوي. دلته بايد يو شی را ياد کړم چي د پوړيو په اړه په کتابونو کي بيلابيلي خبرې ويل شوي دي دوی وايي ټيټي پوړی ځکه په پام کي نيول شوي وې چي راتلونکي ميلمانه به پر خپلو آسانو دغي ټولگي ته ننوتل. داسي منځتشي خبرې دي مانا نه لري ؛ هيڅ څوک په آس له پوړيو پورته نه ځي ، پام مو دی؟ دا د آس لاره نه ده. په ځانگړي توگه په يوې تشريفاتي ودانی کي. پوړی ځکه ډيري ټيټي وې چي په عين حال کي د ودانيزو توکو لکه غټي ډبرې يا نور شيان چي د تخت جمشيد د ودانيو د ودانولو لپاره راوړل کيدل له همدغو پوړيو ښخه په آسانی پورته کشولي ، د پوړيو په منځ کي به يې شگي اچولي او يو ښوينده ځوړی به يې ورڅخه جوړ کړ او شيان چي ډيرې وختونه به ستر کاني ول وربانديې په ښښوَلو او کشولو په آسانی پورته وړل. ځکه د ودانی انگړ په خپله د ډبرو کان نه لري ، د ډبرو کان د تخت جمشيد په شمالي برخه کي پروت دی. ددې لپاره چي د توکو د وړلو او لږد چارې يې آسانه کړې وې ، نو پوړی به يې په دې ډول جوړې کړې.

۱ ويناد

له دې سره سره که پوړيو ته وگورو نو وينو چي د هغوی د ترابنلو د کار لړی نيمگړې ده.

موزيک ۳ ثانيي

د پاتي پوړيو پرمخ په بيلا بيلو برخو کي وينو چي لا تراوسه نه دي ترابنل شوي ، دلته يوه بله پـَتـَـه گورو چي لا تر اوسه نه ده ترابنل شوې.

موزيک



آيا اوس به يي څوک ومني چي له يوې خوا کارگران د پوړيو پرمخ په کار بوخت ول او له بلي خوا ميلمانه به هم راتلل او دلته به يي جشنونه او ښادی کولي ؟

موزيک

# د ولسونو دروازه، دروازهِ ملل

له پوړيو ښخه په تيريدا موږ يو بل انگړ ته ننوځو چي تخت جمشيد ته د ننوتلو دروازه ده او د ولسو دروازه يا دروازهِ ملل بلل کيږي. په دغه دروازه کي چي لومړنی شی بايد په سترگو شي د ننوتلو او دباندې وتلو په لارو کي ايښودل شوي اسفنکسونه دي. که دغه اسفنکسونه د هخامنشيانو د پرتم او لويوالي د نخښو ښکارندوی وي ، آيا د ستروآکانو د لړی د اعتبار لپاره يوازې همدا اسفنکسونه دي؟ دا بايد هيره نه کړو چي هخامنشيانو د اسفنکسونو دغه طرحي **د هغو طرحو** له مخي اخيستي دي چي زموږ په سيمه کي له ډيرو پخوا وختونو پريمانه موندل کيدل. د تخت جمشيد اسفنکسونه د هغو نويو اسفنکسونو د طرحو له مخي کاپي شوي دي چي د تخت جمشيد له جوړولو مخکي پيړی پيړی زموږ په سيمه کي جوړيدل. ان داريوش په خپله ، خپله ږيره په هغه ډول اوبدله چي مدل يې سلگونه کاله مخکي زموږ په سيمه کي دود وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه:** دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په خير و لولئ






دغه ډېرين انځور چې زموږ لرغونپالان يې د زرتشتيانو خدای ته ورسپاري ، د آشوريانو د خدای دی.



که له دغو خبرو تېر شو ، بايد پام وکړو چې تخت جمشيد ته د ننوتلو دروازه هم هيڅکله يوه بشپړه شوې دروازه نه وه او په نابشپړه او نيمګړې توګه په خپل حال پرېښودل شوې ده. خو مخکې له دې چې د دوازې د نيمګړتياوو پر دلايلو وغږېږو راځئ د ننوتلو پر دروازې لګول شوې ډبر ليکې ته يوه ځغلنده کتنه وکړو.

ناصرپور پيرار : په دغې دروازې کې يوه ډبره ليکه ده چې هم په بابلي ، هم په ايلامي او هم په فارسي وربانډې ليکل شوې چې موږ يې نن داريوشي ميخي ليکنه بولو ، دا هغه ميخي ليکنه ده داريوش د هغې د ليکنې لارښوونه ورکړې وه. دلته خشايارشاه وايي چې دغه دروازه ما جوړه کړې ده. بنه ، اوس ورته ګورو چې د هخامنشيانو د لړۍ په کرونولوژۍ کې خشايارشاه د داريوش زوی دی .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



پا مو دی؟ پوښتنه دا ده چي که د جمشيد ټولګه هغسي چي ټول وايي هخامنشي داريوش جوړه کړې وي څنګه کيدای شي چي د هغي د ننوتلو دروازه دې د هغه زوی جوړه کړې وي؟ له تخت جمشيده چي داريوش ګټه پورته کوله آيا دروازه يې نه درلودله؟ نو داريوش څنګه ميلمانه رابلل؟ دغو ميلمونو له کومي لارې ځانونه د آپانادا تالار ته رسول چي دهغي مخامخ ده؟

دغه خبره په خپله په زباد رسوي چي دغه ټولګه د خشايارشاه تر مهاله د جوړولو په حال کې وه ، دې ته په کتلو پوښتنه دا ده چي په ټول تخت جمشيد کې تاسو داسې داريوشي ډبرليکه نه لرئ چي په داسې ودانۍ کې دې داريوش د ځان د حضور ادعا په کې کړې وي ... دا څه دي؟.... ان له تخت جمشيده دباندې پر سويلي ديوال چي نن وربانديې تګ راتګ لږ کيږي يوه ډبرليکه نه لرئ. د يوه ديوال پر مخ يوازې څلور ډبر ليکې لرئ چي هلته داريوش ....... بيا داسې خبرې کيږي چي له تخت جمشيد سره هيڅ تړاو نه لري.

دا هغه خبرې دي چي نن موږ غواړو د هغو ټولې ډډې را وسپړو ، او ووايو چي دلته څه تيريدل. د جوړولو چارې يې چا پيل کړې؟ خشايارشاه چي ادعا کوي دغه دروازه يې جوړ کړې وه آيا پلار يې ژوندی وو؟ امکان نه لري چي ژوندی وي ؛ ځکه په دغه ډبر ليکه کې خشايارشاه وايي چي زه پاچا يم. خشايارشاه د خپل پلار داريوش په ژوند کې ددې ادعا نه شي کولای چي ګڼې زه پاچا يم ، لږ تر لږه کولای شي چي ووايي زه وليعهد يم.



ښه ، که د داريوش له مريني وروسته د خبرې ښنست همدغه پاتې شوني وګڼو ، نو د داريوش له مريني وروسته دغې ټولګې بيا هم د ننوتلو دروازه نه درلودله.

## موزيک

ناصرپور پيرار : د معمارۍ سل پاخه دلايل شته چي دا يوه بشپړه دروازه نه ده. لومړی ، تاسو وګورئ په يوې لرغونې ودانۍ کې کله چي يوه ټولګه نړول کيږي نو له هغې څخه د کاڼو او خاورو کواړې پاتې شي. دداسې کواړې غټوالی د نړول شوي ځای په غټوالي پورې اړه لري، ښايي کواړې دومره غټه وي چي د مخکيني ودانۍ ټول آثار ور لاندې شي ؛ کله چي تاسو يوه لرغوني يا په بله وينا يوه رښتوني لرغوني انګړ ته ننوځـئ نو تاسو لومړی له يوې هوارې ځمکې پرته بل څه نه وينـئ ، تاسو بايد ځمکه وکيندئ ، د خاورو کواړې ليرې کړئ ترڅو ديوال ومومـئ. پام مو دی. په ځانګړې توګه دغسې لرغونو ودانيو کې چي پلن ديوالونه ولري او تخت جمشيد له همداسې ټولګو څخه يوه ټولګه ده چي د ديوالونو ټولګه يې پلنه او پسورَوره ده. له هغې ډلې څخه د ننوتلو همدغه دروازه ده ، د ديوالونو پلن والی يې څه د باندې ۵ متره او لوړ والی يې ۱۸ متره دی چي په څلورو ګوټونو کې ليدل کيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په خير و لولـئ



که تاسو داسې وګڼئ چې دغه دیوالونه د وخت په تیریدا نړیدلي وي نو دومره د خاورو او ډېرو کواړی یې باید له ځانه جوړې کړې وای چې ان ټول اسنفکسونه یې باید تر خپلو خاورو لاندې ورک کړي وای. خو له دغه انګړ څخه چې لرغونتوب یې ستایل شوی، انځورونه او نقاشۍ لرو همدغه اسفنکسونه او همدغه ستنې لیدل کیږي او چې د یوه سطل په اندازه خاورې او ډبرې نه لري.



١ویاند
خو که نن دغې ټولګې ته وګورو نو د هغې چاپیره د خښتو دیوال راتاو شوی چې نوی جوړ او په وروستنیو بیا رغاونو کې پر دغه انګړ ورزیات شوی دی.

دا د بیا رغاونې په مانا نه بلکه د ننداړچي د غولولو لپاره دی او دهغه په ذهن کې دا ور څخول کیږي چې ګنې دغه انګړ مخکې دیوالونه درلودل ، حال دا چې له دروازې څخه د کیندلو په وخت کې یو موټی خاورې هم لاسته نه دي راغلي.



د دغې دروازې پر درشل کښل شویو پراڼو ته وګورئ. د غه پراڼې ددغې دروازې په اوږدو کې ددې لپاره کښل شوي چې د هغې بهرنۍ ډډې ته بنه ورکړي خو پاتې کارونه یې هماغسې نابشپړه پاتې دي. که د دروازې ددرشل څنګیز دیوالونه له خښتو و انګیرو نو ګورو چې سوري یې هېڅکله نه دي انګاف شوي.

لا تر اوسه د قلمانو ضربې ددغه ډبرین درشل په بدنه کې په څرګنده د لیدلو وړ دي چې معمارانو د ډبرې د تراښلو لپاره وهلي دي ترڅو د هغه منځ ته بنه ورکړي. که دغه درشل له بل دیوال سره پخوا نښتی وای نو ټول آثار یې له منځه تلل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

که یو ځل بیا دغه درشل ته وګورو نو وینو چې معمارانو غوښتل ددغه دبرین درشل منځ په ترابشلو تش کړي ، او ان ددغې طرحې قالب هم تردغه دمه نه دی جوړ شوی او د پخسو څنډې یې لا نه دي هوارې شوې.



خو تر ټولو د پام وړ ټکی ددغه انګړ دریم وَر دی. په حقیقت کې دغه انګړ دریم وَر هم درلود چې مخه یې د آپادانا د تالار پر مخ پرانیستل کېدله. خو د جوړېدا په هماغه لومړي پړاو کې په خپل حال پرېښودل شوی دی. له دې چې دغه وَر د نورو دوه وو دروازو په پرتله یو متر لوی دی باید ډېره تشریفاتي بڼه یې درلودلای واي. خو دلته د هېڅ ډول اسفنکس یا هغه ورته نخښې چې په دوه وو نورو دروازو کې یې وینو نشته.

د درشل ډبرو ته که له ورهنګرو او کارپوهو سترګو وګوري نو وینو چې د هغوی پرمخ هېڅ شی نه ول ایښودل شوي. په دغه دروازه کې یوازې د درشل ډبرې او لخکونه ایښودل شوي او نور کار په خپل حال پاتې دی.

موزیک ۸ ثانیه

په انګړ کې د پاتې شوي اثر له مخې ویلای شو چې ددروازې د څرنګوالي بڼه په څه ډول په پام کې نیول شوی وو. دغې مکعب ډولې ډبرې ته وګورئ.



هغې ته په نیږدې کیدلو پوهیږو چې حجاران د هغې د بڼې پراوښتون کار کاوه. داسې ښکاري چې غوښتل یې پاسنی څنډی ته د خرما د ونې د پاڼې بڼه وکړي. ددغه فورم بیلګې کولای شو د دروازه ملل ددویمې دروازې له پاسه او د تخت جمشید په نورو ځایونو کې وګورو.



همدارنګه د خرما د پاڼې تر فورم لاندې حجاران پر دغې ډبرې د رَجې د کښلو په حال کې هم ول چې تر اوسه یې شکل نه دی اخیستی. ددغې ډبرې کښتنۍ برخه لا تراوسه خامه او نه ده ترابشل شوې. خو په دې اړوند موږ د تخت جمشید په هربرخه کې داسې ځایونو وینو چې د هغه مهال د سیستمونو او اوزارو پربنسټ د هغوی د ترابشلو کار یوازې د څو دقیقو په لړ کې ترسره کیدلای شوای خو په هک پکوالي ګورو چې هغه همداسې په خپل حال پرېښودل شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ



کله چي ددغي ډبرې د توږلو کار بشپړېده نو له هغي څخه يي د دروازه ملل په دريم درشل کي کار اخيست. دغه انګيرنه کولای شو له هغه واټنه پوه شو چي ددريم درشل او ددغي ډبرې ترمنځ شته. دغه واټن د خاورو په يوې غونډی بدليده ، ډبره يي د خاوريني غونډی له پاسه پورته کشوله او بيا يي پرخپل ځای کښېنوله.

د يادولو وړ ده ددې لپاره چي ډبره په آسانی پر ځای کښينې د هغې منځ به يي تشاوه.

هيننده ده چي دغه ډبره يي نن حوض نومولي ده.

ناصرپور پيرار: ترټولو مهمه خبره دا ده چي د ننوتلو د دروازې په انګړ کي دننه بايد څلور ستنې وای ، په دومره اوږده وخت کي لا تر اوسه يوازې دوې ستنې ليدل کيږي ، وروسته دوی راغلل ، د رغاوني چارې يي تر سره کړې ، کيندنې يي وکړې ، بيرته جوړې شوې ، نوې بنه يي ورکړه او په انګړ کي له پرتو ماتو ګودړيو يې يو بله نيمه ستنه جوړه کړه خو تر اوسه څلورمه ستنه نه شته ځکه چي نورې پاتې شوني نه وې پاتې.

۱ ويډيو



د يادوني وړ ده چي په دغه انګړ کي د ستنې دَرَوَلو دوه لوی ډبرين ګردي ول چي ستنې وربانديې اينبودل کيدلې خو د هغوی په بيارغاونه کي له سمنتو څخه کار اخسيتل شوی دی.

خو ددريمې ستنې لپاره ، ډبرين ګردی چي د بيارغاونې په لړ کي ورباندې ستنه درول شوې په يوه ماشين تراښل شوی دی.



خو هغه ډبرين ګردی چي د ډبرې د اصلي جنسيت څرګندوی دی هغه ډبرين ګردی دی چي هيڅکله بله ستنه وربانديې نه ده اينبودل شوې.

دغه خبره هغه مهال په زړه پورې کيږي چي د ولاړو ستنو کښتنې برخي ته په ځير وګورو.
د ستنو غولی په ځينو ځايونو کي هوارشوی او په يو شمير ځايونو کي په نابشپړه ډول تراښل شوي. د هغوی پر مخ لا تر اوسه د قلم آثار ښکاري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ

له دویمي دروازې په را وتلو د  څمکي پرمخ له شمیر کوشنیو ډبرو سره مخامخ کیږو. د ډبرو ددغو ټوټو په څیرلو گورو چې د هغوی د تراښلو کار هم په بشپړ ډول نه دی تر سره شوی.



ددغي ډبرې څنډې ته وگورئ چې تراښل یې نه دي بشپړ شوي. د ډبرو تیغي یې د کارپه پای کې تراښلي تر څو د ډبرو څنډې ماتي نه شي.

د ډبرو د تراښلو او د هغوی بنې ته په کتلو ویلای شو چې دغه ډبرې د دروازه ملل ډبرې دي ، هېڅوک نه شي ویلای چې دغه ډبرې د دروازې له پاسه لاندې رالویدلي دي بلکه هغه ډبرې دي چې تراوسه نه دي بشپړې شوې او د دروازې سرته نه دي پورته شوې.



ان د کار پراونه او د بیلابیلو قلمونو د څوکو آثار د هغې پرمخ لیدلای شو.



هماغسې چې و مو لیدل لومړۍ او دویمه دروازې پر خپل ځای ولاړې وې او د هغوی پاتې شوني هم د هغوی ترڅنگ پرځمکې پرتې وې. خو ددریمي دروازې د تراښلو کار په دې دلیل نه دی پیل شوی چې هېڅ ډول ماتې شوې پاتې شوني نه لرې ، یوازې د هغې د تاج د تراښلو کار پیل شوی وو.
په پای کې باید ددغه انگړ غولې او د تخت جمشید نورو ټکیو ته هم پاملرنه وکړو. د انگړ غولې نه دی هوار شوی ، له دې چې دغه انگړد جوړولو په درشل کې وو ن نیمگړتیا یې له ورایه ښکاري. ان له دویمي دروازې څخه د  وتلو پرمهال او د صدستون مانۍ او د تخت جمشید په نورو برخو کې ورته نابشپړې نیمگړتیاوې کولای شو وگورو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

**ناصرپور پیرار**: وګورئ که تاسو د لویدیځي دروازې لور ته ورځـئ تاسو باید له یوه دالانه تیر شـئ ترڅو دغي لارې ته را ورسیږئ چې څه نا څه اوږده لاره ده. بنه ! لرغوني مانۍ په نړکي لږ نه دي ، په ځانګړي توګه زموږ سیمه له لرغونو سیمو څخه ډکه ده. یو لرغونی دالان معمولاً په پسولنیزو ډبرو پوښل شوی وي ، بنه ! دوی وایي دلته د هیوادونو استازي راتلل ، ملي لمانځني او جشنونه تر سره کیدل ، دلته باید دالانونه په پسولنیزو ډبرو پوښل شوي وای لکه سرامیکي ، موازئیکي ډبرې ، د ډبرو پرمخونو باید انځورونه کښل شوي وای ، تاسو په ټول تخت جمشید کې د یوې ښتي په اندازه د غولي پوښښ نه وینـئ. د ټولو انګړونو غولي نه دي پوښل شوي. له هغي ډلي څخه دغه دالان چې له دروازه ملل څخه نیغ پر دغي مانۍ ورننوځي باید غولی یې پوښل شوی وای ..... نه دی پوښل شوی ... د دروازه ملل او د آپادانا دالان هم نه دی پوښل شوی ، د آپادانا او صد ستون د مانیو ترمنځ د دالان غولی نه دی پوښل شوی ، همدارنګه د تـَچـَر او هـِدیش ترمنځ دالان. دا داسي یوې بیدیا ته ورته دی چې لاس ورته نه دی رسیدلای ، دلته د ودانۍ جوړولو یو شمیر عملیات روان ول او په پام کې وه که کار پای ته ورسیږي نو ټول غولي به یې وروسته ور وپوښي ځکه د غولیو پوښل د ودانیو جوړولو د کار وروستنی پړاو دی. د ودانیو په منځ کې دننه او له هغو دباندې غولي یو یې نه هوار شوي او نه پوښل شوي ، دلته په هاغه وخت کې چا له اره د دالانونو د غولیو د پوښلو په اړه فکر او طرح نه درلوده ځکه کار یې نه وو بشپړ شوی. دغه دلایل په خپله ددغه انګړ د نابشپړتیا لپاره یو زباد دی.



نوربیا

یـــادونـــه:

د فلم د لیدلو لپاره د تحلیل د ځانګي کېنې خواته د تلویزیون های افغاني تر کږکی لاندې د آ ګ او تی وی د مستندوفلمونو په برخه کې و ګورئ!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ